# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

سه شنبه د ۱۳۹۹ د وږي یوولسمه | د ۲۰۲۰ د سپتمبر لومړۍ | ۵۸۸یمه ګڼه


# د حکومت د ویش بهیر؛

## د ګډ حکومت د هوکړې له مخې د ډاکټر عبدالله عبدالله لس نوماند وزیران معرفي شول



۳

### ارګ؛ هر څه جنجالي کوي

۲ مخ

### د چین نړیوالې راډیو پښتو څانګه ۴۷ کلنه شوه

۲ مخ

### د افغانستان د اقتصادي پرمختګ پر وړاندې ستر خنډونه

۳ مخ

## <u>سیمه ییز چارواکي:</u> د نږدې یوې اونۍ په تېرېدو د پروان د سېلابونو ګڼ قربانیان لاهم تر خاورو لاندې دي

د پروان سیمه ییز چارواکي وایي چې د نږدې یوې اونۍ په تېرېدو سره لا هم په دغه ولایت کې د سېلاب ځپلو د پیدا کولو عملیات روان دي. د پروان ولایت ویاندې وحیده شهکار امریکا غږ ته ویلي چې په دغه ولایت کې د سېلابونو له امله د مړو شمېر ۱۲۰ او ټپیانو ۱۳۲ تنه ته رسېدلی دی. هغې ویلي چې د دغه طبیعي پېښې زیات قربانیان ښځې او ماشومان دي. نوموړې زیاته کړې: «اوس هم ژغورونکې ټیمونه په سیمه کې د پاتې جسدونو د پیدا کولو لپاره په عملیاتو بوخت دي، دا چې څومره کسان به تر خاورو او ورانیو لاندې وي څه نشو ویلی، خو احتمال لري چې یو شمېر لا پاتې وي.» د هغې په خبره، په پروان ولایت کې تر خاورو او ورانیو لاندې د پاتې کسانو د را ایستلو عملیاتو لویه برخه د افغان دفاعي ځواکونو پر غاړه ده. په ورته وخت کې دفاع وزارت هم ویلي چې اوس هم په سیمه کې د ملي اردو ځواکونه د ژغورنې په عملیاتو بوخت دي. دغه وزارت همدارنګه د دغه ولایت له اوسېدونکي څخه غوښتي چې که په سیمه کې تر خاورو او ورانیو لاندې د کومې کورنۍ کسان بند پاتې وي، په سیمه کې دې ملي اردو ته ژر تر ژره خبر ورکړي، تر څو هغوی یې را وباسي. سیمه ییز چارواکي دغه راز وایي چې سېلاب ځپلو ته یې د مرستو رسولو لړۍ یې پیل کړې او تر دې مهاله یې یو شمېر کورنیو ته مرستې هم رسولې دي. د پروان ولایت ویاندې زیاته کړې چې تر دې مهاله څه باندې ۱۵۰۰ کورنۍ پېژندل شوي او د مرستې رسول ورته پیل شوي دي. چارواکي وایي چې دغه مرستې په کور دننه د خیریه بنسټونو، شتمنو او نړیوالو ادارو لخوا برابرې شوې دي.

<u>د ملکیانو د خوندیتوب دله:</u>

## د جګړې ښکېلې خواوې دې د ملکي وګړو د ژوند خوندیتوب ته جدي پام وکړي




۵ مخ

## څېره

۴ مخ

### کریستف کولمب



ویل کېږي چې کولمب د لومړي ځل لپاره امریکا کشف کړې او دې لویې وچې ته یې د انساني ژوند څرک رسولی. ځینې کسان یې د دې لویې وچې د تمدن سرلاری هم بولي.

## په لوګر کې د ۲۲ میلیونه ډالرو په لګښت د برېښنا رسولو چارې بشپړې شوې



د لوګر په مرکز کې د ۲۲ میلیونه ډالرو په لګښت د برېښنا رسولو چارې بشپړې شوې دي.

د لوګر د برېښنا امر انجنیر نورالدین په همدې تړاو جوړې شوې غونډې ته ویلي چې پر دې پروژې ۲۲ میلیونه ډالر لګښت راغلی او د کار چارې یې په دوو نیمو کلونو کې بشپړې شوې دي. هغه زیاته کړې، دغه پروژه ۱۴۶ ټرانسفرمرونه لري چې له دې سره به د مرکز اړوند ټولې سیمې د برېښنا له رڼا څخه برخمنې شي. نوموړي زیاته کړه چې د یادې پروژې ټول لګښت د نړیوال بانک له لوري ورکړل شوی دی.

دغه راز د لوګر والي محمد اجمل شاه پور هم ویلي چې په دغه پروژه کې ۱۳۵۰۰ کورنیو ته برېښنا ورکړل شوې ده. هغه زیاته کړه: «د خوښۍ ځای دی چې د داسې یوې مهمې او اساسي پروژې پرانیسته کوو چې ټوله ګټه یې ولس ته رسېږي.»

والي له خلکو هم غوښتي چې د ملي پروژو په پلي کولو کې له دولت سره همکاري وکړي.

## <u>اتمر:</u> پاکستان در امتداد خط فرضی دیورند از راکت‌پراگنی‌ها و ساخت وساز تاسیسات خودداری کند



سرپرست وزارت خارجه کشور در دیدار با هیئت پاکستانی بر لزوم قطع راکت‌پراگنی‌ها بر نقاط مختلف افغانستان از آن‌سوی خط فرضی دیورند، توقف ساخت وساز تأسیسات خودسر از جانب آن کشور و بازنگهداشتن گذرگاه‌ها میان افغانستان و پاکستان، تأکید کرد. درخبرنامه ای مطبوعاتی وزارت امور خارجه که دیروز منتشر شده آمده است که محمد حنیف اتمر، سرپرست وزارت امور خارجه با سهیل محمود، معین وزارت امور خارجهٔ پاکستان در دفتر کارش ملاقات کرد. منبع افزوده است، محمود در رأس یک هیأت عالی‌رتبهٔ مرکب از نهادهای مختلف حکومت پاکستان، به‌هدف اشتراک در نشست دوره‌یی «پلان عمل افغانستان-پاکستان برای صلح و همبستگی (APPAPS) «به کابل آمده است. در خبرنامه آمده است، سرپرست وزارت امور خارجه، آمدن سهیل محمود و هیأت همراهش را به کابل خیرمقدم گفته، بر گسترش همکاری‌های نظامی و امنیتی میان دو کشور تأکید کرد و در رابطه به اراده و عزم راسخ دولت افغانستان در جهت گسترش روابط دوجانبه در عرصه‌های مختلف با پاکستان، صحبت کرد. موصوف بر لزوم قطع راکت‌پراگنی‌ها بر نقاط مختلف افغانستان از آن‌سوی خط فرضی دیورند، توقف ساخت‌وساز تأسیسات خودسر از جانب آن کشور و بازنگهداشتن گذرگاه‌ها میان افغانستان و پاکستان، تأکید نمود. اتمر، دیدگاه‌ها و نظریاتش را پیرامون اتصال منطقه‌یی، توسعهٔ تجارت و ترانسپورت، تمدید خط آهن حیرتان- کابل-پشاور و حیرتان-هرات- کندهار-کویته، با هیأت پاکستانی در میان گذاشت.


Aksos

اکسوس کتابپلورنځی

Aksos Book Store

Add a Book to Your Life

دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

Aksos Book Store

دریځ

## ارګ؛ هر څه جنجالي کوي

د مصالحې عالي شوار د غړو په اړه د ولسمشر فرمان جنجالي شوی دی. د دې شورا د ځینو غړو لخوا د غږېتوب له نه منلو وروسته، اوس ډاکټر عبدالله هم دا شورا نه مني او وايي چې دا د ولسمشر نه، بلکې د مصالحې د عالي شورا صلاحیت دی چې دا شورا جوړه کړي.
د مصالحې عالي شورا مشر ډاکټر عبدالله په یوه خپره کړې خبرپاڼه کې ویلي، چې د دې شورا په اړه د ولسشمر فرمان ته اړتیا نشته. په اعلامیه کې د عبدالله او اشرف غني تر منځ د سیاسي هوکړه لیک پر «ب» بند استناد شوی چې پکې ویل شوي: «د ملي مصالحې عالي شورا له ولسمشر، سیاسي طرفونو او رهبرانو، د ملي شورا د دواړو مجلسونو له رییسانو، مدني ټولنې او د هېواد له نخبه ګانو سره په مشوره، تشکیلېږي».
د ارګ لخوا د سولې په برخه کې هره هڅه د دې پر ځای چې له سولې سره مرسته وکړي، نوې لانجې زېږوي او د سولې له اصلي بحث څخه خلک منحرفوي او پر فرعي او بې ارزښته مسایلو یې بوختوي. د مصالحې عالي شورا په اړه د ولسمشر فرمان هم همداسې یو ګام و. دې فرمان څو اساسي ستونزې لرلې. لومړۍ ستونزه دا وه چې له ډېرو غړو سره یې مشورې نه وې شوې او پرته د هغوی له اجازې په شورا کې راوستل شوي وو. دویمه ستونزه دا وه چې د حامد کرزي او ګلبدین حکمتیار په شان کسان یې د عبدالله مامورین او تر لاس لاندې کسان کړي وو. درېیمه ستونزه پکې دا وه چې په شورا کې ځینې ډېر مهم کسان هېر شوي وو او ځینې ډېر نامهم پکې اخیستل شوي وو. څلورمه ستونزه دا وه چې شورا ټولشموله نه وه او د ډېرو سیمو، ولایتونو او آن قومونو استازي پکې یا هېڅ نه وو او یا هم کم وو. تر دې ګردو مهمه او لویه ستونزه پکې دا وه چې یوه لویه برخه کسان، سیاسي ګوندونه او اړخونه ټول حکومتي شوي وو چې دا نه د دغو اړخونو غوښتنه وه او نه هم دې چارې له سولې سره مرسته کولی شوی.
پر دغو ټولو ستونزو سربېره، ولسمشر بیا هم له خپل شریک او د مصالحې شورا له مشر ډاکټر عبدالله سره له مشورې او د هغه له توافق پرته دا کار وکړ. پایله یې پراخ اختلاف دی. اوس به ولسمشر له اوږدو لانجو وروسته خپل فرمان بېرته اخلي او ستونزه به په یو ډول دوام کوي. ولسمشر له ډاکټر عبدالله سره په ناقانونه ډول واک وویشه، خو چې کله یې دا کار وکړ او هوکړه لیک یې ورسره لاسلیک کړ، نو بیا پکار ده چې دغه هوکړه لیک ته ژمن پاتې شي. له بده مرغه هم لاسلیک کوي او هم بیا پرې عمل نه کوي. له همدې امله نیم حکومت فلج دی او له همدې امله د مصالحې عالي شورا غړي نه وو او چې اعلان شول، نو جنجالي شول.
اصلي خبره دا ده چې ارګ پر هر څه ملنډې وهي، سوله نه غواړي او غواړي هر څه جنجالي کړي. له همدې امله پر جرګه ملنډې ووهل شوې، ټول حکومت سرپرست دی، نیم حکومت فلج دی، د مصالحې عالي شورا جنجالي شوې، د سولې خبرې ورکې دي او جګړه زیاتېږي. تر هغو چې په ارګ کې دا کړۍ واکمنه وي او تر هغو چې دوی له هر څه سره داسې لوبې کوي، نو زموږ حالت به ورځ تر بلې خراب شي، نه به مو حکومتولي سمه شي او نه به هم د سولې خوند ووینو. له همدې امله یا باید د ارګ د واکمنو فکر او کار بدل شي او یا هم ځای او مقام.

# د چین نړیوالې راډیو پښتو څانګه ۴۷کلنه شوه



لیکنه: نقیب الله مل



د جولای ۱۵مه/چنګاښ ۲۵مه نېټه د چین نړیوالې راډیو پښتو څانګې پوره له ۴۷مې کالیزې سره برابره وه، پښتو څانګې د کار او فعالیت ۴۷ کلن مزل پوره کړ او په ۴۸م کال یې قدم کېښود.
د چین نړیوالې راډیو له دې پیغام او ارمان سره سم نړۍ ته چین او چین ته نړۍ ور پېژندنې لپاره کار کړی دی، په لمن کې یې د ٦٤ بېلابېلو ژبو څانګې ځای لري، چې پښتو څانګه له دې ډلې یوه ده.
د رسنیو په کورنۍ کې راډیو له خپلې لومړۍ زمانې څخه د اوسني عصر تر پرمختللې ټکنالوژۍ پورې اهمیت او اړتیا پر ځای ساتلې او پاتې شوې ده. راډیو د رسنیو په کتار کې هغه یوازېنۍ رسنۍ ده، چې مخاطبین یې د هرې کچې وګړي جوړوي، لوستي که نالوستي دي، نارینه که ښځینه دي، مشران که ځوانان دي رانغاړي او توانېدلې ده چې تر نورو په دې لړ کې مخکښه او وړاندې اوسي. مسوولې، بیدارې رسنۍ د تمدنونو په غوړېدو او د ټولنو په فکري بیدارۍ او جوړونه کې د پام وړ رول لري، د پرمختللو ټولنو ویښتیا کې یې ونډه د پام وړ ده، د ملتونو، ټولنو او نظامونو د ملا تیر حیثیت لري، د نظامونو او ټولنو د انحراف مخنیوي کې رغنده ونډه لري، د پردیو نامریي لاسونه لنډوي او د دښمن پټې شومې دسیسې رسوا او شنډوي.
د چین نړیوالې راډیو پښتو څانګې موجودیت او فعالیت د چین او افغانستان د دوستانه اړیکو د ټینګښت په برخه کې مهم پاتې شوی دی. د جولای میاشتې ۱۵مه نېټه د پښتو څانګې د تأسیس او فعالیت له ۴۷م کال سره برابر وه او نیمې پېړۍ ته یې مزل رسېدل نږدې شوی دی.
د چین نړیوالې راډیو په چوکاټ کې د پښتو څانګې ۴۷کلن فعالیت له کامیابۍ سره مل روان ساتلی شوی دی، ۴۷کلونه وړاندې هغه زمانه وه چې د مطبوعاتو په دنیا کې مشکلات ډېر وو، په سختو او د نشتو امکاناتو په زمانه کې د پښتو مطبوعاتو کورنۍ ته دننه شوه، د نوې او مډرنې ټکنالوژۍ هېښوونکو کارنامو د نننۍ دنیا په بېلابېلو برخو کې د رسنیو لپاره زمینې مساعدې شوې دي، د پښتو څانګې لمن هم په نړۍ کې تر ګوټ ګوټ پراخه او رسېدلې ده، په دوستۍ ولاړ مطبوعاتي رسالت کې یې ونډه څرګنده ده، له پیله یې د دوو دوستو هیوادونو د ولسونو دوستانه اړیکو د ټینګښت په برخه کې کار کړی دی، د خپرونو محتوا یې د دواړو هېوادونو د ګټو، دوستۍ او د اړیکو وده کې نغښتې ساتل شوې ده، د متقابل درناوي، ملي حاکمیت ارزښتونه لوړ او مقدم ګڼي، د پښتو څانګې ۴۷کلن مزل کلیزې بریا د ټولو ده، دا خوشالي د افغانانو او چینایانو له ګډو زیارونو سره مل او تړلې ده.
دلته یې یادونه اړینه بولم، هغه چې د پښتو څانګې په تأسیس کې به یې نومونه تل زموږ په یاد پاتې وي، د چین او افغانستان دوه ستر ملي شخصیتونه دي او د پښتو څانګې له موجودیت سره یې نومونه بې اړیکې نه دي.
اول د چین ولسي جمهوریت لومړی صدر اعظم جوین لای دی او دویم د افغانستان هغه مهال د پادشاهي دولت صدر اعظم وروسته بیا د افغانستان د جمهوري نظام بنسټ اېښودونکی او لومړی جمهور رییس محمد داوود خان دی. که د افغانستان او چین د دوستانه اړیکو تاریخ پس منظر ته وکتل شي، حتماً به موږ پکې د داوود خان د صدارت او بیا د هغه د جمهوریت په موده کې د چین او افغانستان د دوستانه اړیکو کچې اوج ولیدلی شو، د دوو دوستو ګاونډیو هېوادونو د دوستۍ اساس او بنسټ پکې ایښودل شوی دی، د نومړو دوو شخصیتونو د وطنپالنې کارنامې او کیسې په خپلو هېوادونو کې د خلکو تر منځ سینه په سینه او خوله په خوله ژوندۍ پاتې دي، هغه چې د وطن د تاریخ د ځپرکو زرینې کرښې جوړوي، په لویه پیمانه یې د خپلو هېوادونو د ابادۍ او پرمختګ لپاره د سترو اغېزمنو پلانونو نقشې او موخې عملي کړې او جوړې کړې دي.
په عمل کې یې د ډاډمنو اړیکو ځپرکو اساس ایښی، د دوو اړخیزو دوستانه اړیکو او باور لپاره یې قوي بنسټ تر ننه مضبوط ولاړ دی، سره له دې چې که څه هم افغانستان له څو لسیزو راهیسې د جنګ جګړو په اور کې ګیر پاتې شوی دی، متأسفانه د افغانانو له دې جګړه ځپلي حالت څخه ځینو فرصت پرستو ناروا او ناسمه استفاده کړې ده، اور ته یې قصداً لمن وهلې ده، خو موږ د چین د لاسوهنې او په واحد افغان کور کې د کورګیو جوړولو څرک نه شو موندلی، په دې موده کې د چین برخورد، رویه، دریځ او ټینګې دوستۍ پیکه والی او بدلون نه دی کړی.
هغه مهال چې افغانستان په سیمه کې یو له امن او مخ پر ودې هیوادونو په سر کې و، تل یې د دوستۍ فعاله رویه مخ ته وړې ده، په ختیځ کې له چین سره ۷٦کیلومتره اوږدوالي پوله او د واخان دهلیز د دوستۍ دهلیز په نوم پاتې او یادېږي، د افغانستان او چین اړیکو تمایل همېشه په دوستۍ باندې مخ ته تللی، د سیاسي او رسمي اړیکو په څنګ کې په ملکي ولسي برخو کې راښه درشه ته د پام وړ ځای ورکړل شوی دی، کلتوري، هنري، سپورټي، تعلیمي او مطبوعاتي اړیکو ته ځانګړې توجه شوې ده.
په ۱۹۵۷میلادي کال کې کابل ته د چین د وخت صدر اعظم جوین لای د درې ورځنۍ سفر پر مهال په اوو برخو کې د هوکړو لاسلیک کېدلو، دوو اړخیزو اړیکو ته نوی رنګ او په دې برخه کې نوی ځپرکی پرانیست، د دوو اړخیزو دوستانه اړیکو پراختیا، د پروان د اوبو لګولو اوبه خور پروژې عملي کول، په کندهار کې د میرویس روغتون او د بګرامۍ نساجي فابریکې جوړول، په کونړ کې د چای کرکیلې ترویج پروژې عملي کول، د کلتوري، ورزشي پلاویو تګ راتګ او د پیکېنګ راډیو په چوکاټ او اډانه کې چې هغه مهال د چین نړیوالې راډیو نوم و، د افغانستان لپاره د پښتو څانګې تأسیس رسماً تایید او ومنل شول.
د چین ولسي جمهوریت د صدر اعظم له خوا د پیکېنګ راډیو په چوکاټ او اډانه کې د افغانستان لپاره پښتو څانګې ته ځای ورکول د افغانستان د پادشاهي دولت صدر اعظم محمد داوود له خوا په ورین تندي ومنل شول، ترې مننه یې وکړه او زیاته یې کړه: «دا چې د چین ولسي جمهوریت دوست هیواد او خلک یې افغانستان ته او د افغانستان ملي ژبې پښتو ته اهمیت ورکوي، موږ یې قدرداني او درنښت کوو.
په دې توګه موږ د دواړو هېوادونو د دوه اړخیزې دوستۍ او اړیکو پیاوړتیا لپاره یو بله کړکۍ جوړه او پرانیزو. دواړه هېوادونه د یو بل کلتوري او هنري ډلو ته دعوت ورکوي چې د ملي ورځو نمانځغونډو، جشنونو کې ګډون او راشه درشه زیاته کړي، په دې وسیله د ولسونو تر منځ کلتوري تبادلې او د پېژندنې فرصتونو زیاتوالي او پراختیا ته وده ورکوو.»
له هوکړې سره سم، د پښتو څانګې د خپرونو چمتووالي پلان جوړ شو، د پښتو ژبې د زده کړې مسلکي ژباړونکو او ویندویانو روزنې لپاره د چین بهرنیو ژبو بهرنیو اړیکو پوهنتون د انګلیسي ژبې څانګې نهه محصلین وټاکل شول، په ۱۹۵۹میلادي کال کې کابل ته ورسېدل، د کابل پوهنتون د ژبو ادبیاتو پوهنځي پښتو څانګه کې پښتو ژبه یې زده کړه، په ۱۹٦۳میلادي کال کې فارغ او بېجینګ ته ستانه شول او د چین نړیوالې راډیو په اډانه کې د پښتو څانګې کارونه عملاً پیل شول.
د چین نړیوالې راډیو په چوکاټ کې د پښتو څانګې خپرونو پیل ته لحظې ګوتې په شمار وې، د پښتو رسنیو کورنۍ کې د راډیو په څپو کې د چین افغان دوستۍ غږ ازانګې خورې شوې، دا د پښتو ژبې د راډیویي نشراتو په تاریخ کې نه هېرېدونکې ورځ او خاطره پاتې ده، دا د ۱۹۷۳میلادي کال د جولای میاشتې ۱۵مه نېټه وه، په افغانستان کې د شاهي رژیم له نسکورېدو او کودتا څخه یوازې دوه ورځې مخکې وه.
پښتو څانګه ژر وتوانېده چې د اورېدونکو پراخ هرکلی خپل کړي. ۴۷کلونه وړاندې په ۱۹۷۳میلادي کال کې د پښتو نشراتو دا ډیوه د چین په مرکز بېجینګ کې بله شوې ده، پښتو رسنیو کاروان ته یې رڼا او ځواک ورکړی دی، د پښتو مطبوعاتو په تاریخ کې یې غږ او فعالیت مخکښ او د پام وړ پاتې شوی دی، پښتو رسنیو کې د اوږده عمر لرونکې رسنۍ یادېږي، نږدې نیمه پېړۍ د پښتو رسنیو په ډګر کې فعاله ده او د پیاوړې رسا غږ ویاړ لري.
په دې هیله چې د پښتو رسنیو دا طلایي غږ تل همداسې ځلانده او رسا اوسي. د چین نړیوالې راډیو د پښتو څانګې د خپرونو عمر اوږد او همداسې دوامداره اوسي او څو چې دا ژبه شته، دا څانګه دې همداسې تانده اوسي، تر ګوټ ګوټ یې دې لمن او غږ غځېدلی او پراخه اوسي.
پښتو څانګه وتوانېده چې په ۲۰۰۳میلادي کال کې د انټرنېټ په شبکه کې خپله ځانګړې برېښناپاڼه جوړه کړي او خپل غږ او فعالیت یې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې تر خپلو مینوالو پراخ کړ.
په ۲۰۰۵میلادي کال کې د راډیویي خپرونو تر څنګ یې د پښتو هنداره درې میاشتنۍ مجله چاپ کړه، په پښتو ژبه د چین په اړه د باارزښته مطالبو خپرولو سره یې په کمه موده کې د لوستونکو مینه تر لاسه کړه.
په ۲۰۱۱میلادي کال کې د لنډو څپو تر څنګ په کابل او کندهار کې اېف اېم څپه خپرونې پیل کړې.
په ۲۰۱۳کال کې د اپریل په دویمه نېټه د فېسبوک پاڼه جوړه کړه، په اوو کلونو کې یې د مینوالو شمېر له دوه نیم میلیونو اوښتی دی. په ۲۰۲۰کال د مې میاشت کې په یوټیوب کې خپل چینل جوړ کړ. دا د پښتو څانګې د کارونو او د پرمختګ لاسته راوړنو لنډه یادون دی.
د چین نړیواله راډیو اوس د چین میډیا ګروپ یا د چین رسنیو ډلې برخه ده، چې په لنډه کې د CMG په نوم یادېږي.

# د افغانستان د اقتصادي پرمختګ پر وړاندې ستر خنډونه

لیکنه: ناصر انځور

**وروستۍ برخه:**

څه باید وشي څو د افغانستان د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ پر وړاندې دا ستر خنډونه له منځه یوړل شي او د دې هېواد پرمختګ ته لار هواره شي؟ څه باید وشي؟

لومړی: تر هر څه د مخه باید افغان حکومت او ټولې ښکیلې غاړې دې هېواد ته سوله راولي. د سیاسیونو تر منځ جوړجاړی تر بل هر وخت او ډېر اړین دی. د سولې په راتګ نه یوازې دا چې په افغان حکومت مالي بوج کمېږي، بلکې په دې هېواد کې پانګې اچونې ته لیوالتیا هم پیدا کېږي؛ هغه ځکه چې د دې هېواد اقتصاد اوس نوی نوی راغوړېږي او نړېدې ټولو توکو ته په کې تقاضا زیاته ده. همدارنګه ارزانه کاري قوه او د خامو موادو شتون پانګوالو ته دا زمینه برابروي، چې ارزانه توکي تولید کړي.

دویم: فساد باید له منځه ولاړ شي. افغان حکومت باید د فساد پر ضد اداره غښتلې کړي، څو د فساد کچه راکمه او په اقتصادي راکړه ورکړه کې شفافیت رامنځ ته شي.

درېیم: د نړۍ او په خاصه توګه د سیمې له هیوادونو سره باید متعادله سیاسي تګلاره غوره شي. د بېلګې په توګه، د هند لپاره باید پاکستان، د پاکستان لپاره ایران او د ایران لپاره تاجکستان او یا کوم بل هېواد خفه نشي. لکه څرنګه چې یادونه وشوه چې افغانستان په وچه کې را ایسار او په نورو هېوادونو تکیه لري؛ نو متعادل سیاست کولی شي چې په دې هېواد هر فشار را کم کړي. په اوسني وخت کې افغانستان باید تر اخري بریده کوښښ وکړي څو د نړیوالې سوداګرۍ په برخه کې له ټولو ګاونډیو هېوادونو سره ښې اړیکې وساتي.

څلورم: د خصوصي سکټور تقویه کولو ته باید خاصه پاملرنه وشي. که چېرې موږ نورې نړۍ ته نظر وکړو، نو دا به راته جوته شي چې په هر پرمختللي هېواد کې خصوصي سکټور خورا زیات غښتلی دی. په افغانستان کې له څو لسیزو جنګ وروسته خصوصي سکټور یو ځل بیا را په ټوکیدو دی. له بده مرغه د کرونا ویروس دغه سکټور ته یو ستر خطر دی، ځکه د دې سکټور زیاتې برخې نوې دي او نشي کولای چې د کرونا ویروس له بحران څخه راولاړ شوی مالي بوج په خپلو اوږو یوسي؛ نو حکومت باید د دې سکټور تقویه کولو ته ځانګړې پاملرنه وکړي. له دې سره په خوا کې کورنیو تولیداتو ته په بازار موندنه کې هم باید هر راز همکاري وشي. یو غښتلی خصوصي سکټور به د دولت عواید لوړ کړي، د بېکارۍ کچه به کمه کړي او په ټوله کې به د افغانستان اقتصاد په پښو درولو کې مرسته وکړي. له دې سره په خوا کې باید ترانسپورټ او ترانزیټ برخې ته لازمه پاملرنه وشي. که افغانستان له بحر سره نېغ په نېغه نه دی نښتی، نو د وچې ترانسپورټ یې هم ډېر پیچلی دی. تر ننه پورې کابل لا د ریل د پټلۍ له لارې له کوم بل هېواد سره نه دی نښتی.

پنځم: د افغانستان د ابادۍ لپاره باید منظم پلانونه او طرحې جوړې شي. موږ اوس هم د سردار محمد داوود خان یو کلن او پنځه کلن پلانونه پلي کوو. د غوره او بریالیو اقتصادي پالېسیو او پلانونو جوړولو لپاره باید د سیمې په کچه د اقتصاد پوهانو غونډه راوبلل شي او د افغانستان اوسنیو حالاتو ته په کتو سره باید د دې هېواد پرمختګ لپاره یو کلن، دوه کلن او پنځه کلن پلانونه جوړ شي. ښه به دا وي چې د اقتصاد پوهانو او پلان جوړوونکو دا کنفرانس دې هر کال راوبلل شي.

شپږم: لکه څرنګه چې مخکې یادونه وشوه، د افغانستان اقتصاد تر ډېره بریده په بهرنیو مرستو تکیه لري او مرستې او پورونه بې له قید او شرط څخه نه وي. له قید شرطونو سره سره بیا هم باید نړیوالې مرستې په بنیادي پروژو کې ولګول شي؛ نه دا چې افغان حکومت دې د یو خیریه بنسټ په شکل دا مرستې مصرف کړي. خیریه بنسټونه له شتمنو څخه په شکل د اشکالو پیسې راټولوي او په هغې د غریبو کورنیو ورځنۍ ستونزې حل کوي، چې د څو ورځو په تېرېدو همدا کورنۍ ور سره بیا لاس او ګریوان وي. همدې ته ورته عمل د ډوډۍ ویشلو دی؛ چې په دې وروستیو کې افغان حکومت تر سره کړ. دا جوته خبره ده چې په افغانستان کې تر ۵۴ سلنې زیات وګړي د فقر تر کرښې لاندې ژوند کوي او خلک له ولږې مري؛ خو هغه تګلاره چې افغان حکومت د مرستو د لګښت لپاره غوره کړې، په اوږد وخت کې د افغانستان اقتصاد ته زیاته ګټه نه رسوي.

پورتنیو ستونزو او حللارو ته پاملرنه د افغانستان د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ پر وړاندې ستر خنډونه له منځه وړلای شي. که چیرته دغو ټکو ته پام وشي، نو لرې نه ده چې د افغانستان اقتصاد به ډېر ژر پر خپلو پښو ودرېږي.

**پای**

# د حکومت د ویش بهیر؛

## د ګډ حکومت د هوکړې له مخې د ډاکتر عبدالله عبدالله

## لس نوماند وزیران معرفي شول



د ولسمشر غني او ډاکټر عبدالله عبدالله تر منځ د شوي توافق پر اساس، د نوموړي تازه لس وزیران وزارتونو ته د سرپرست په توګه ور معرفي شول. د راپورونو له مخې، ولسمشر غني پرون د جلا فرمانونو له مخې له ډاکټر عبدالله عبدالله سره د هوکړې مطابق لس تنه سرپرست او نوماند وزیران معرفي کړي دي. د ولسمشر ویاند صدیق صدیقي تېره ورځ په خبري کنفرانس کې وویل چې د هوکړې د پاتې مواردو د عملي کېدو چارې هم رواني دي او هڅه کېږي چې د پیاوړي حکومت د جوړولو لپاره اقدام وشي. سره له دې چې د افغانستان ولسمشریزې ټاکنې له ناندریو ډکې وې، نو دوه مخکښ ټاکنیز سیالان دې ته تیار شول چې د ګډ حکومت د جوړولو لپاره هوکړه سره وکړي. د هوکړې له مخې به نیمایي کابینه د ډاکټر عبدالله عبدالله له لوري معرفي کېږي چې تر دې دمه پر دغه مورد عمل نه و شوی.

پرون حکومت تازه پرېکړه کړې چې د لسو وزارتونو لپاره به د ډاکټر عبدالله عبدالله له ډلې نوماند او سرپرست وزیران معرفي کوي.

د ولسمشر ویاند صدیق صدیقي وایي چې د جلا جلا فرمانونو له لارې ولسمشر غني د لسو وزارتونو لپاره نوماند وزیران او سرپرستان معرفي کړي، چې ډېر ژر به ولسي جرګې ته د باور رایې د اخیستلو لپاره معرفي کړل شي.

د صدیقي په خبره: ((د جمهوري اسلامي افغانستان کابینه مکمله شوې ده، چې دوی به ډېر ژر ولسي جرګې ته د باور رایې د اخیستلو لپاره ور معرفي کېږي)).

د صدیقي په خبره، بشیر احمد تینج د کار او ټولنیزو چارو، نثار احمد غوریاني د صنعت او سوداګرۍ، قدرت الله ذکي د ترانسپورت، معصومه خاوري د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ، انورالحق احدي د کرنې، محب الله صمیم د سرحدونو او قبایلو، فضل احمد معنوي د عدلیې او نور رحمان اخلاقي د کډوالو او بیرته راستنیدونکو چارو وزارت د نوماند او سرپرست وزیرانو په توګه ټاکل شوي دي.

صدیقي د دې تر څنګ د سولې او بین الافغاني خبرو د پیل په اړه هم خبرې وکړې. نوموړي وویل چې افغان حکومت د سولې ملاتړی دی او په دې برخه کې یې هڅې کړې دي، خو طالبانو تر دې دمه پر خپلو ژمنو عمل نه دی کړی او د دې اړتیا ده چې د دوحې هوکړې له مخې هم تاوتریخوالی کم کړي او هم د بندیانو په خوشې کولو کې رښتیني اوسي. صدیقي وایي، طالبانو لا هم د افغان پوځ بندي سرتېري نه دي خوشې کړي او نه یې هم د دوی د خوشې کولو په اړه څه ویلي دي. صدیقي زیاتوي: ((دا زموږ هیله ده چې بین الافغاني مذاکرات پیل شي. موږ غواړو چې جګړه پای ته ورسېږي. دا د هر افغان غوښتنه ده. خو زموږ د زندانیانو د خوشې کېدلو مسئله هم خورا مهمه ده. دوی باید ژر تر ژره خوشې شي. هیلې شته دي، ټول اړخونه پر دې مسئله کار کوو او ژر به بین الافغاني خبرې پیل شي)).

بلخوا تازه د ملي مصالحې عالي شورا مشر ډاکټر عبدالله عبدالله د ولسمشر غني پر هغه فرمان غبرګون ښودلی، چې له مخې یې د ملي مصالحې عالي شورا ته ځینې غړي ور معرفي شوي وو. د ملي مصالحې عالي شورا رییس عبدالله عبدالله وایي، د ۱۳۹۹ کال د غویي میاشتې د ۲۸مې نېټې هوکړې له مخې، د دغې شورا د رسمیت او رامنځ ته کېدو بحث د ملي مصالحې عالي شورا له لوري له ولسمشر، سیاسي اشخاصو، ملي شورا له رییسانو، مدني ټولنې او د هېواد له نخبه ګانو سره په مشوره تشکیلېږي، نو په دې بنسټ د دغې شورا ایجاد د ملي مصالحې عالي شورا د رییس صلاحیت دی او د ولسمشرۍ ماڼۍ د فرمان ایجاب نه کوي. ارګ بیا وایي چې د دې شورا غړي ولسمشر معرفي کوي او ښایي په افرادو کې لږ او یا هم ډېر بدلون شي. ارګ ټینګار کوي چې په شورا کې باید ټول اړخونه حضور ولري او ټول د سولې لپاره کار وکړي.

# د ګڼو هېوادونو له نیوکو سره سره؛

## د اسراییل او اماراتو ډیپلوماټیکي اړیکې بېرته عادي او ترمنځ یې مستقیمې الوتنې پیل شوې

وروسته له هغې چې درې اونۍ مخکې اسراییل او متحده عربي اماراتو په خپلو کې د اړیکو د عادي کېدو تاریخي هوکړې اعلان وکړ، تېره ورځ له اسراییل څخه اماراتو ته لومړنۍ مستقیمه الوتنه وشوه.

د راپورونو له مخې، متحده عربي امارات د خلیج د سیمې لومړنی او د عربي نړۍ درېیم هېواد دی چې له اسراییل سره خپلې اړیکې بېرته عادي ټینګوي.

د اسراییل د ایل ایل هوایي شرکت دغه الوتکه چې تېره ورځ په دریو ساعتونو کې ابوظبي ته ورسېده، د اسراییلي او امریکایي چارواکو یو پلاوی یې لېږداوه چې په ترکیب کې یې د امریکا د ولسمشر ډونالډ ټرمپ زوم او جګپوړی سلاکار جریډ کوشنیر او د اسراییل د ملي امنیت سلاکار میر بن شابات هم شامل وو.

دغه پلاوی په ابوظبۍ کې د اماراتو له چارواکو سره ګوري او پر دې به خبرې وکړي چې اسراییل او متحده عربي امارات په کومو برخو کې کولای شي چې همکاریو ته پراختیا ورکړي.

د راپورونو له مخې، کوشنیر د هغو پټو خبرو مشري کړې چې په پایله کې یې د اسراییل او متحده عربي اماراتو ترمنځ دغه هوکړه وشوه.

نوموړي الوتکې ته له پورته کېدو مخکې د تل ابیب په بن ګوریون هوایي ډګرکې خبریالانو ته ویلي، دا یوه تاریخي الوتنه ده او هیله لري چې هغه به په منځني ختیځ کې او له هغې ورهاخوا یو تاریخي سفر پیل کړي.

په ورته وخت کې د اسراییل لومړي وزیر بنیامین نتانیاهو په یوه ټویټ کې دغه پرمختګ ستایلی او دغه الوتنه یې د سولې لپاره یوه بېلګه بللې ده.

د دغې الوتکې د پیلوټ د اړخ کړکۍ په عربي، عبري او انګریزي ژبو د سولې په کلمو پوښل شوې وه. دغه الوتکه د سعودي عربستان له هوایي قلمرو څخه چې معمولاً د اسراییلي الوتکو پر وړاندې بند و، تېره شوې ده.

دا په داسې حال کې ده چې اسراییل او متحده عربي اماراتو د روانې اګسټ میاشتې په ۱۳مه د امریکا د متحدو ایالتونو په منځګړیتوب د یوې هوکړې اعلان وکړ چې له مخې یې د دواړو هېوادونو ترمنځ ډیپلوماتیکې اړیکې په بشپړه توګه ټینګېږي.

د دغې هوکړې له مخې، اسراییل ژمنه کړې چې له خپلې خاورې سره د لوېدیځې غاړې د اشغال شویو سیمو د یوځای کېدو پلانونه ځنډوي.

دا د خلیلج د سیمې له یوه هېواد سره د اسراییل د بشپړو ډیپلوماټیکي اړیکو د ټینګېدو لومړنۍ، خو له عربي نړۍ سره یې درېیمه موافقه ده. اسرائیل له دې مخکې له اردن او مصر سره ورته اړیکې ټینګې کړې دي.




بلخوا د خلیج یو شمېر هېوادونو د اسراییل او اماراتو د دغه وروستي اقدام هرکلی کړی، خو ایران، ترکیې او فلسطین پرې سختې نیوکې کړې دي. په ورته مهال متحده عربي اماراتو تېره شنبې هغه قانون لغوه کړ چې له ۱۹۷۲ ز کال راپه دېخوا نافذ و او پر اسراییل یې بندیزونه لګولي وو.

## د کتاب خبري

# افغانستان او سیمه‌ییزه همکاري فرصتونه او ستونزې

© لیکوال : څېړندوی محمد سرور احمدزی

### لومړی فصل
### دڅېړنې کلیات




په دې څېړنه کې د افغانستان او سیمه‌ییزې همکارۍ په اړه له ترسره شویو څېړنو، لیکنو، د معتبرو نړیوالو ادارو له راپورونو د افغانستان د حکومت د اړوند ادارو له خپرونو، اسنادو، نشراتو، اعلامیو او ویناوو څخه استفاده شوې ده . دا څېړنیز اثر څلور څپرکي لري په لومړي څپرکي کې د څېړنې په کلیاتو، په دویم څپرکي کې د سیمه‌ییزې همکارۍ پر پېژندنې، په درېیم څپرکي کې د سیمه‌ییزې همکارۍ لپاره په شته فرصتونو او په څلورم څپرکي کې د سیمه‌ییزې همکارۍ پر وړاندې په پرتو ستونزو بحث شوی . د اثر په پای کې پایله، وړاندیزونه او د ماخذونو فهرست راوړل شوي دي .

**د څېړنې موخه**

د دې څېړنې موخه د سیمه‌ییزې همکارۍ پر وړاندې د پرتو فرصتونو او ستونزو څېړل او د افغانستان له حکومت سره د سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا په اړه د یوې علمي او معقولې پالیسۍ له جوړولو سره مرسته کول دي .

**د څېړنې اهمیت او مبرمیت**

د افغانستان ځانګړی جغرافیایي موقعیت د دې سبب شوی څو د نړۍ او سیمې د مهمو او سترو هېوادونو پاملرنه ځانته راواړوي. افغانستان جنوبي اسیا چې د انرژۍ له جدي بحران سره مخامخ ده له مرکزي اسیا سره چې د انرژۍ پراخې زېرمې لري نښلوي . افغانستان د سیمې مهمو سازمونونو کې غړی یا هم څارونکی غړی دی په افغانستان کې د سولې او ثبات د ټینګښت او د اقتصادي ودې لپاره د سیمې له هېوادونو او سازمانونو سره د اړیکو او همکاریو پراختیا مهمه ګڼل کېږي. افغانستان مرکزي اسیا، جنوبي اسیا او منځنی ختیځ له یو بل سره نښلوي . د افغانستان د ستونزې د حل لپاره سیمه‌ییزه همکاري او د افغانستان له حکومت څخه د سیمې د مهمو او سترو هېوادونو ملاتړ مهم ګڼل کېږي .

د سیمه‌ییزو سازمانونو او د سیمې له هېوادونو سره د همکاریو پراختیا او سیمه‌ییزه همکاري د افغانستان د حکومت په بهرني سیاست کې ځانګړی ځای لري، دا چې سیمه‌ییزه همکاري د افغانستان لپاره ځانګړی ارزښت لري، نو د سیمه‌ییزې همکارۍ په اړه د پرتو فرصتونو او ستونزو په اړه څېړنې او مطالعات د افغانستان او سیمه‌ییزې همکارۍ له پراختیا سره ډېره مرسته کولای شي او زموږ له حکومتي مشرانو، سیاستوالو، پالیسي جوړوونکو سره د اغېزمنو پالیسیو رامنځته کولو او د سیمې له هېوادونو سره د همکاریو د لاپراختیا په برخه کې هم ډېره مرسته کولای شي .

د څېړنې ډول او میتود

د دې څېړنې ډول کتابتوني د ی او له تحلیلي او توصیفي میتود څخه پکې استفاده شوې .

د څېړنې پوښتنې

د دې څېړنې اصلي او اساسي پوښتنه دا ده چې د افغانستان او د سیمې د هېوادونو او سیمه‌ییزو سازمانونو ترمنځ د همکاریو د پراختیا په برخه کوم او څه ډول فرصتونه او د همکاریو د پراختیا پر وړاندې کوم خنډونه او ستونزې شته؟

د څېړنې فرضیه

د څېړنې فرضیه داده چې د افغانستان او د سیمې د هېوادونو او سیمه‌ییزو سازمانونو ترمنځ د همکاریو پر وړاندې هم ستر فرصتونه او هم مهمې ستونزې موجودې دي .

### دویم فصل
### د سیمه‌ییزې همکارۍ پېژندنه


سیمه‌ییزه همکاري هغه سیاسي او اداري میکانیزمونه دي، چې په یوې ځانګړې جغرافیایي سیمه کې د سیمې د هېوادونو ترمنځ د دوه اړخیزې همکارۍ او تفاهم د پراختیا، د ملي ګټو د خوندیتوب او د ګډو ګټو د رامنځته کولو او پراختیا په موخه ورڅخه استفاده کېږي. سیمه‌ییزه همکاري هغه پروسه ده چې په وسیله یې د سیمې د هېوادونو ملي اقتصاد په یو بل پورې تړل کېږي، سیمه‌ییزه همکاري د اقتصادي ودې په چټکتیا، د فقر په کمولو، د نویو دندو په رامنځته کولو او د بنسټونو په پیاوړتیا کې مهم رول ترسره کوي .

الف ـ د سیمه‌ییزتوب او سیمه‌ییزې همکارۍ په اړه علمي نظریې

د دویمې نړیوالې جګړې له پای ته رسیدو وروسته او په اروپا کې د سیمه‌ییزتوب له پیلېدو سره سم د نړیوالو اړیکو یوه مهمه ځانګړتیا د سیمه‌ییزتوب په چوکاټ کې د سیمه‌ییزې همکارۍ پراختیا وه د سیمه‌ییزې همکارۍ او سیمه‌ییزتوب د مفاهیمو له رامنځته کېدو سره سم د سیمه‌ییزې همکارۍ په اړه علمي څېړنې پیل شوې او د سیمه‌ییزتوب په اړه نظریې د نړیوالو اړیکو له مهمو نظریو لیبرالیزم، نیو لیبرالیزم، ریالیزم او نیو ریالیزم، مارکسیزم او نیو مارکسیزم له مخې وېشل شوي دي . په ۱۹۵۰ او ۱۹۶۰ مو لسیزو کې د سیمه‌ییزې همکارۍ کلاسیکې نظریې په اروپا کې له سیمه‌ییزې همکارۍ څخه اغېزمنې وې، هغه مهال په سیمه‌ییزې همکارۍ کې دولتونو خپلې ملي ګټې په پام کې نیولې، دولتونو په سیمه‌ییزه همکارۍ کې مهم رول درلود او سیمه‌ییزه همکاري له سړې جګړې څخه ډېره اغېزمنه وه. د سړې جګړې له پای ته رسیدو او د شوروي اتحاد له ړنګېدو وروسته د سیمه‌ییزتوب پروسې پراختیا او پیاوړتیا پیدا کړه، سیمه‌ییزتوب نه یوازې په پرمختللو هېوادونو، بلکې په وروسته پاتې هېوادونو کې هم د همکاریو د یوې ببلګې په توګه رواج پیدا کړ، له همدې امله سیمه‌ییز کېدل (Regionalization) او سیمه‌ییزتوب (Regionalism) له اروپا څخه بهر په اسیایي، افریقایي او امریکایي هېوادونو کې د ځینو جوړښتونواوسازمانونوپربنسټ رامنځته شول. **دوام لري...**

# کریستف کولمب

شفیق امیرزی



کریستف کولمب ایټالیوي سوداګر او په سیندونو ګرځېدونکی و. د ده په اړه پوره معلومات نشته، خو لاس ته راغلي معلومات ښيي چې هغه په ۱۴۵۱ز کال کې د اکتوبر په ۳۱ مه د ایټالیا په جونوا ښار کې زیږېدلی دی. ویل کېږي چې هغه په اتفاقي توګه د امریکا لويې وچې ته ورسېد او دغه ستره قاره یې کشف کړه. د معلوماتو له مخې، کولمب ته د کاسټېل پادشا ماموریت وسپاره چې د لوېدیځ له لوري هند ته ځان ورسوي چې په همدې لړ کې یې په ۱۴۹۲ز کال کې په اتفاقي توګه بېړۍ له اطلس بحر تېرېږي او امریکا ته رسېږي. هغه وخت امریکا ناپېژندل شوې وچه وه او خلک یې له تمدن او پرمختګ لرې پاتې وو.

کرېستف کولمب د نړۍ په تاریخ کې د بحث پاروونکو څېرو له ډلې ګڼل کېږي. له دې ډلې تاریخ لیکوال په تېره سورپوستي تاریخپوهان په دې باور دي، چې کولمب په نړۍ کې د کشمکش او قتلونو سبب شوی دی. د دوی په خبره، دی په مستقیمه او غیر مستقیمه توګه د میلیونونو سورپوستو په وژلو کې ښکېل دی. همدا راز دی د اروپا له لوري د امریکا د استعمار سبب هم بلل کېږي، خو ځینې نور بیا برعکس دی د تمدن غوړوونکی بولي. دوی وایي، کولمب د دې سبب شو چې غربي فرهنګ د امریکا تر وچې ورسېږي او د دې وچې خلک له تمدن او نوي ژوند سره بلد کړي.

د تاریخپوه ډیوېډ ایکورن په خبره، د کریستف کولمب اصلي نوم جان کولون و. بیا یې خپل نوم په کریستوفر کولمبوس بدل کړ. خو اوس په نړۍ کې په کریستف کولمب مشهور دی. مور یې سوزانه فونټه روسا نومېده. د ژوند د لومړنیو کلونو په اړه یې هم کافي معلومات نشته. تاریخپوهان وایي چې دی د ایټالیا د جونوا تبعه دی. ځینې نور یې بیا هسپانوی بولي. پلار یې دومنیکو کولمبو نومېده چې سوداګر و او له حکومت سره یې هم اړیکې لرلې. مور یې بیا د یوه وتلي سوداګر لور وه، نو کولمب په یوه شتمنه کورنۍ کې لوی شوی و. کولمب تر ځان درې واړه وروڼه او یوه خور هم لرل. په ۱۴۷۰ز کال کې یې کورنۍ د ژوند او سوداګرۍ لپاره ساوانو ته کډه شوه. په همدې ځای کې کولمب او ورور یې نه یوازې چې خپلې سوداګرۍ ته ادامه ورکړه؛ بلکې د نقشې د جوړولو او نقشې د کارولو هنر یې هم زده کړ. کولمب رسمي تحصیلات نه دي کړي او تر ۲۴ کلنۍ پورې یې لیکل او لوستل هم زده نه وو. ده هیله لرله چې د بېړۍ چلوونکی شي، مشر یې وي او لرې لرې سفرونه وکړي. وروسته وروسته یې زده کړې پیل کړې، هڅې یې وکړې، ځان یې پوه کړ او د بېړۍ چلولو، سفر کولو او نقشې کارولو مهارتونه یې زده کړل. کله چې د لیک لوست شو، نو ویل یې چې په سخته مطالعه او هڅه به د رسمي زده کړو د نه لرلو تشه ډکوي او خپله دا نیمګړتیا به له منځه وړي. کولمب د کښتۍ چلولو په تمه په ۱۴۷۴ز کال کې د خپل پلار له پخوانیو ملګرو سره کار پیل کړ. دوی د سپینولا پانګه وال وو، چې کښتۍ یې لرلې او سفرونه به یې کول. همدلته یې په ایژه سمندرګي کې پوره یو کال د خیوس جزیرو ترمنځ په سفرونو او تګ راتګ تېر کړ. کولمب لنډه موده خپل کور ته راغی او بېرته خیوس ته لاړ.

په ۱۴۷٦ز کال کې دا فرصت ورته برابر شو چې له سوداګرو سره یو ځای د لومړي ځل لپاره اطلس سمندر ته سفر وکړي. دوی سنټ وینسنټ ته رسېدلي وو چې فرانسوي سمندري غلو ورباندې یرغل وکړ او کښتۍ ته یې اور ورته کړ. ویل کېږي چې کولمب له دې پېښې ځان وژغوره او دا چې سمندر ته لوېدلی و، نو اړ شوی و چې پوره ۹.٦۵ کیلومتره لامبو وکړي او ځان وژغوري.

په ۱۴۷۷ز کال کې پرتګال ته لاړ. په هغه وخت کې دا ډېره مهمه سیمه وه او د اروپایي هېوادونو ټولې بېړۍ به دلته راتلې بیا به د انګلیستان، ایرلنډ، ایسلنډ، مادایر، ازور جزیزو او افریقا په لور روانېدې. کرسټف او ورور یې دلته د پرتګال په پلازمېنه کې د نقشو له جوړولو خپل کار پیل کړ. څه موده وروسته کولمب د واړه سوداګر په توګه له یوې پرتګالي بېړۍ سره یو ځای شو. هغه دوه کاله پرله پسې د خوړو او بورې د سوداګرۍ لپاره د مادایر، ایرلنډ او ایسلنډ ترمنځ تګ راتګ کاوه. وروسته یې افریقا ته سفرونه وکړل او بیا د پرتګال د حکومت له لوري په ګینه کې د سوداګرۍ د برخې د استازي په توګه وګومارل شو.

په هغه وخت کې سوداګرو نه یوازې سوداګري کوله؛ بلکې د هېوادونو په تېره د استعماري قدرتونو لپاره د معلوماتو ټولولو کار یې هم کاوه. دوی به د لښکرو او پوځونو لپاره لارې پیدا کولې او بیا به یې خپلو حکومتونو ته په اړه معلومات ورکول. د دې تر څنګ دوی خپل فرهنګ غوړاوه، دینونه یې هم خپرول، جګړو کې یې په غیر مستقیمه توګه ونډه اخیسته او هغه د اروپا او اسلامي نړۍ ترمنځ کشمکش و چې سوداګرو به په دغه کشمکش کې ډېره ونډه لرله.

د کولمب په وخت کې اروپاپانو هند ته د تګ لپاره مستقیمه لار نه لرله. دوی به جنوب ته تلل، له افریقا به تېرېدل، د هند په سمندر کې به یې ځان دې هېواد ته رساوه. په ۱۴۸۰مه لسیزه کې کولمب هم هند ته د سفر خیال په سر کې درلود، خو ده په هغه وخت کې پر تللو لارو تګ ته زړه ښه نه کړ، بلکې د معمول خلاف یې پر بله لار سفر پیل کړ. ده غوښتل له اروپا په مستقیمه توګه حرکت وکړي او د اطلس سمندر له لارې ځان اسیا ته ورسوي.

د ۱۴۹۲ ز کال د اګسټ په درېیمه کولمب له خپلو ملګرو سره د دریو بېړیو په ملتیا له لافرونترا ووت. له دوی سره یوه لویه او دوې وړې کښتۍ روانې شوې. د یوې کښتۍ نوم پنتا، د بلې یې نینا او د درېیمې یې نینای موګر و. دوی د کولمب په خوښه په مستقیمه توګه په اطلس سمندر کې د اسیا په لور روان شول. دا لاره او سفر خطرناک و، ځکه اروپایانو هېڅ وخت په دې لار او په دې ډول سفر نه و کړی. ټول هم له انسانانو، هم له سمندري ژوو، څپو او توپانونو وېرېدل، خو کولمب پر خپله خبره ولاړ و.

کولمب چې تر اوږدو سفرونو په تصادفي توګه امریکا ته ورسېد، دا قاره یې کشف کړه، نو په ۱۴۹۳ز کال کې یې د هسپانیې پادشا ایزابل او ملکې ته یو لیک ولیکه. په دې لیک کې یې د دې سیمې د خلکو، بوټو، ژوو او اقلیم په اړه پادشا ته معلومات ورکړل.

له همدې وروسته کریستف کولمب له ۱۴۹۳ تر ۱۴۹٦ز کال پورې له اوولسو مجهزو بېړیو سره یو ځای د امریکا د نیولو لپاره دغه هېواد ته لاړ. له ده سره ۱۲۰۰ کسان په دې سفر کې شامل وو چې موخه یې هم له امریکا د مستعمرې جوړول وو. دوی غوښتل امریکایي بومي وګړي وځپي او خپل حکومت جوړ کړي. په لومړي سفر کې یې جنوبي برخې انتخاب کړې، له ۲٦ ورځني مزل وروسته مرکزي امریکا یو دومینیکا ته ورسېدل. بیا شمال لوري ته وخوځېدل، د آنتیل وړو جزیرو ته ورسېدل، ویرجین جزایر یې ونیول او دا ټول ځایونه یې د اسپانیې برخه وګڼل. وروسته خپل پخواني ځای ته راغی، هغه ځای ته چې د امریکا د کشف پر مهال ورته راغلی و. دا سیمه یې هیسپانولا نومولې وه. خو کله چې ورسېد، ټول ځایونه یې له خلکو خالي ولیدل. پخواني ملګري یې چې دلته ورسره راغلي وو، یو هم نه و. ټول له ځایي امریکایانو سره په جګړو کې وژل شوي وو. ده د خپلې هستوګنې پر مهال یوه لویه کلا او یوه واړه شهرک د پیل چارې پیل کړې. هغه په همدې ماموریت کې له شرق تر غرب د کیوبا څنډې هم وکتې او سفرونه یې وکړل. ده هلته ډېر کارونه وکړل، د خپلو خلکو او ملګرو لپاره یې ځایونه جوړ کړل او چارې یې خپلو وروڼو ته وسپارلې.

کولمب په ۱۴۹۸ز کال کې د درېیم ځل لپاره امریکا ته لاړ. په دې سفر کې هیسپانیولا ته تر رسېدو مخکې یې ترینیداد جزیره کشف کړه. له دې سره جوخت په امریکا کې د هغو کسانو ژوند هم له خطر او ګواښونو سره مخ و، چې له کولمب سره په دویم سفر کې یو ځای راغلي وو. دا هغه کډوال وو، چې د کولمب ژمنې یې اورېدلې وې او د ډېرو پیسو د ګټلو په تمه امریکا ته تللي وو. دوی له خپل وضعیت ناخوښ وو او د هسپانیې له حکومت یې غوښتل چې کولمب ګوښه کړي. کولمب چې له بومي امریکایانو سره په جګړه بوخت و، د خپلو شاوخوا کسانو دې چلند غوسه کړ، غبرګون یې وښود او خپل څو نږدې ملګري یې د نافرمانۍ په جرم اعدام کړل. خو ځینې نور چې کله له امریکا راستانه شول، په هسپانیه کې یې حکومت ته د کولمب له کمکاریو او ناسم مدیریت شکایتونه وکړل. دوی ویل چې هغه یو بې کفایته دی او باید پر وړاندې یې اقدام وشي. پادشا او ملکې هم د فرانسیسکو په نامه یو څېړونکی دې شکایتونو ته د رسیدګۍ مامور کړ. هغه په ۱۵۰۰ز کال کې امریکا ته لاړ، همدا چې هلته ورسېد، له څنډ پرته یې کولمب او وروڼه له دندو لرې کړل او مستقیم یې هسپانیې ته ولېږل. سره له دې چې کولمب تر لږ بند وروسته ازاد شو، خو هېڅ وخت بیا واک ته ونه رسېد او نه هم حکومت هغه ته د مشرتابه اجازه ورکوله.

په ۱۵۰۲ز کال کې کولمب یو ځل بیا ژمنه وکړه چې پر ټوله نړۍ به راګرځي او خپل سفرونه یې پیل کړل. دا یې امریکا ته هم وروستی سفر و. ده غوښتل سمې لارې وپلټي، له همدې امله یې ټوله امریکا له بلیز تر پانامې غلبېل کړه او سفرونه یې پکې وکړل. په دې سفرونو کې یې کوچنی زوی فردیناند هم ورسره و. دوی غوښتل خپل سفر لا وغځوي، خو له یوه امریکایي بومي سوداګر سره یې بېړۍ ټکر شوه او دا سفر وځنډېد. د هیسپانیولا د کمکې قوي تر رسېدو پورې کولمب اړ شو چې پوره یو کال په جامایکا کې پاتې شي او له هغه وروسته بېرته هسپانیا ته راغی. په وروستیو کلونو کې کولمب له دربار سره د لومړنیو هوکړو مطابق د دې غوښتونکی شو، چې د کشف شوو ځمکو لس سلنه عواید باید ورکړل شي. خو حکومت دا ورته پلمه کړه چې ګواکې اوس د حکومت رسمي منصبدار نه دی، ځکه پخواني قرار دادونه د باور وړ نه دي. د ده غوښتنې یې رد کړې او حکومت ورسره پر خپلو کړو ژمنو عمل ونه کړ.

کریستف کولمب تر ډېرو سفرونو او کشفیاتو وروسته د ۱۵۰٦ز کال د مې په شلمه په هسپانیا کې ومړ. هغه وصیت کړی و، چې په امریکا کې دې خښ کړل شي، خو دا چې هغه مهال په امریکا کې د دې کار لپاره مناسبه کلیسا نه وه، نو ځکه یې د هسپانیې په والادولید ښار کې خاورو ته وسپاره. له دې سره سره یې بیا هم په ۱۵۴۲ز کال کې جسد له خاورو و ایستل شو او هیسپانیولا ته ولېږدول شو. یو وخت د فرانسې او هسپانیې ستونزه پېښېږي، بیا د کولمب جسد له هیسپانیولا کوبا ته لېږدول کېږي. په ۱۸۹۸ز کال کې چې کله کولمبیا خپله خپلواکي اخلي، بېرته یې جسد له اطلس سمندر تېرېږي او هسپانیې ته لېږدول کېږي. خو لا هم دا دقیقه نه ده معلومه چې په رښتیني توګه د کولمب د وجود پاتې شوني په کوم هېواد کې دي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۶.۸۰ |
| € | ۸۹ |
| Rp. | ۴۵۶ |
| ₹ | ۱۰۴۰ |
| ¥ | ۱۰،۶۰ |
| £ | ۹۹،۷۰ |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیايي مرکز
166

همیانی

# ستونزې او پر وړاندې یې مبارزه

ژباړه: حمیدالله حمیدي

باوري یم چې تر اوسه به مو ګڼې سوداګریزې خبرتیاوې اورېدلې او لیدلې وي، چې موخه یې د خپلو نوو تولیداتو او محصولاتو په اړه د خلکو خبرول دي. کېدای شي په دغو خبرتیاوو کې مو له یوې څخه اورېدلي وي چې:

«کولای شی د ځمکو او کورونو د پلورلو په برخه کې زما په څېر د زیاتو پیسو خاوندان شی او په دې برخه کې پر یو بانفوذه شخص بدل شی. بسنه کوي چې زموږ په میاشتینۍ پچه اچونه کې ګډون وکړی، خپل بخت و ازمایئ او مېلیونر شئ.»

کېدای شي داسې یو کتاب مو پېرلی وي چې په څو شېبو کې مو ژوند ته بدلون ورکړي او یا مو په داسې یو ورکشاپ کې ګډون کړی وي، چې د پانګې اچونې په برخه کې د نوو فنونو او لارو چارو په زده کولو سره مو مالي استقلال لاسته راوړی وي او د وخت له لاسه ورکولو پرته مو خپل کسب او کار ته پرمختګ ورکړی وي.

ټول تلوېزیوني پروګرامونه او کتاب پلورنځي د شتمن کېدو او بریالي کېدو لپاره تر ټولو وروستي او لوی فرصتونه ګڼل کېږي. هره نوې نظریه تر پخوانۍ هغې د پام وړ او بریالۍ ده. دغه نظریه کېدای شي چې تقویتي ورکشاپونه، سوداګریزې خبرتیاوې او یا هم عامه پوهاوی وي، اړینه دا ده چې تګلارې یې یو له بل سره توپیر لري.

له چټک شتمن کېدو څخه ان تر بریالیتوب او خوښیو پورې ټول بدلونونه په همدې لنډمهاله ورکشاپونو، پروګرامونو او کتابونو کې راوړل شوي دي. کېدای شي تاسو خپلې بریاوې او بدلونونه د هغو داستانونو له منځه پیدا کړی، چې ستاسو له توان او اسانتیاوو سره هېڅ اړیکه نه لري.

هغه کیسې او داستانونه چې وایي د یوې اونۍ په اوږدو کې شتمن شی، په اصل کې موږ له خپلې اصلي موخې څخه لرې کوي. دا داستانونه موږ دې ته اړ باسي څو د نورو له موخو سره سم حرکت وکړو او په پای کې ستړي او ناهیلي له خپلو هڅو لاس واخلو. کله چې خپله اصلي موخه ونه پېژنی او کمزوری عمل وکړی، بیا نو د خنډونو د له منځه وړلو او له هغوی څخه د تېرېدلو توان نه لری.

په خواشینۍ سره لنډمهاله پروګرامونه، خبرتیاوې او ورکشاپونه، موږ ته دا نه وایي چې بریا ته رسېدل دومره هم ساده او اسانه نه دي. حقیقت دا دی چې د خپلو موخو د لاسته راوړلو لپاره لومړی باید له ډېرو خنډونو او ستونزو سره مخ شو. دغه فرېب ورکوونکې کیسې، لوستونکي ته دا نه وایي چې د تمې او وړاندوینې خلاف شرایط به مخې ته راځي او له ډېرو خطرونو سره به مخ کېږو او دغه وخت بیا موږ هم د دې هر څه له منلو پرته بله لاره نه لرو.

هر یو کس چې په یوه برخه کې خپلو شخصي بریاوو ته رسېدلی، تاسو ته وایي، هغه پوښتنه چې باید ځواب ورکړو، دا نه ده چې «ایا د تمې او وړاندوینې خلاف شرایط مو په مخ کې شته او که نه؟» بلکې پوښتنه دا ده چې «دغه شرایط به په کوم وخت کې مخې ته راځي او څه ډول کولای شو چې د هغوی پر وړاندې عمل وکړو؟» همدغه د شک او نا باورۍ شېبه ده چې زموږ رښتینی شخصیت را څرګندېږي.

د ډېرو لپاره د سختیو او ستونزو همغه لومړنۍ نښې نښانې بسنه کوي، څو له هڅو لاس واخلي او ناهیلي شي. خو ډېری کسان بیا د ستونزو له را ولاړېدو سره سم خپله اراده لا پیاوړې کوي او د ستونزو پر وړاندې د استقامت او درېدو لپاره نوې لارې لټوي. هغوی د دې پر ځای چې تسلیم شي، له ستونزو څخه د خپلې بریا لپاره نوې فرصتونه جوړوي، ځکه هغوی پوهېږي چې ستونزې او سختۍ تل سر را پورته کوي. هغوی پوهېږي چې ځینې موکې د ستونزو په زړه کې ځای لري او ځینې نورې بیا په اسانۍ سره د لاسته راوړو وړ دي. هغه حالت چې وکولای شو د ارامۍ احساس وکړو، په ارامه ساه وباسو، په پوره غور سره هر څه و ارزوو او هغه شرایط وټاکو چې په ښه توګه وکولای شو د ستونزو له زړه څخه مناسب فرصتونه ترلاسه کړو، همغه زموږ د بریالیتوب د حالت څرګندوی دی. په داسې یو حالت کې د ځان لپاره داسې شرایط خپلوو چې کولای شو پر هر ډول ستونزه برلاسې شو او غوښتنې مو چې هر څه وي، لاسته یې راوړو.

تېروتنه مه کوئ، له ستونزو سره د مخ کېدو پر مهال د غوره حالاتو او شرایطو خپلول اسانه کار نه دی. همدا په خپله یوه لویه ستونزه ده.

په حقیقت کې ډېری کسان پر دې باور دي چې موږ ټول انسانان د خوښۍ، شتمنۍ او بډاینې د حالاتو په اړه پوره پوهه او مالومات لرو.

خوښي خپل نظم او قانون لري.

د خوښیو د لاسته راوړلو لپاره لومړی باید داسې یو قانون او قاعده ولرو چې پر اساس یې د خوښۍ مفهوم بیان او تعبیر کړای شو. کله چې ټاکلې او روښانه موخه ولرو، اړینه ده چې د ستونزو په زړه کې د شته فرصتونو د لاسته راوړلو لپاره له یو ځانګړي نظم او قانون څخه پیروي وکړو او له لارښوونو سره سم یې پر مخ ولاړ شو. دغه قاعده او قانون هغه مهال زموږ لاسنیوی کوي، کله چې د هغه څه په لور ګام واخلو چې موږ یې خپله اساسي موخه بولو.

د دې موضوع په اړه فکر وکړئ. کله چې هر څه زموږ له خوښې سره سم پر مخ ځي، خوښ اوسېدل او غوره پرېکړه کول ډېر اسانه او ساده کار دی. پوښتنه دا ده، کله چې له یوې ستونزې یا خنډ سره مخ کېږو، څه ډول غبرګون ښکاره کړو. همدغه شېبه ده چې موږ نړۍ او کایناتو ته او له دې څخه اړینه دا چې خپل ځانته مو، ځان د یو انسان په توګه ورپېژنو. کله چې تسلیمېږو، په خپلسرې توګه له ماتې سره مخ شوي یو. که په ساده ډول یې ووایم، خپلې موخې مو لاس ته نه دي راوړې. خو کله چې یوې ستونزې یا خنډ ته په ورین تندي ښه راغلاست وایو، په اسانۍ سره کولای شو چې د هغه ستونزې یا خنډ د رامنځ ته کېدو پر لاملونو پوه شو، د ستونزو له زړه څخه اړین فرصتونه لاسته راوړو او وروسته خپل مسیر ته بدلون ورکړو.

له لنډمهاله خنډونو سره د تعامل کولو تګلاره، زموږ د کار پایلې څرګندوي.

دا په یاد ولرئ: کېدای شي چې په باغ کې مو یو بوټی کرلی وي، کېدای شي په زړه کې مو هیلې کرلې وي، کېدای شي په وجود کې مو وېره کرلې وي، خو تر هغه وخته چې دغه بوټي ته پاملرنه کوو او هغه ته اوبه او خواړه ورکوو، لا ډېرې رېښې ځغلوي او په خپل ځای کې کلک او پیاوړی کېږي. کله چې د ښېګڼو په لټه کې و اوسو، ښېګڼې به لاسته راوړو. کله چې د فرصتونو په لټه کې و اوسو، مناسب فرصتونه په خپله سر راښکاره کوي.

د بېلګې په توګه، فرض کړئ غواړی چې په سوداګریزه برخه کې کار وبار پیل کړی، له همدې امله تل د رسنیو اوازو ته غوږ یاست او په بازار کې د نرخونو د لړې اندازې ښکته او پورته کېدو سره مو پر زړه لړزه راځي. دا همغه شېبه ده چې د دې کسب په اړه خپله مینه او لېوالتیا له لاسه ورکوی او هغه موخه مو تر پوښتنې لاندې راولی، چې د اوږده وخت لپاره مو ورباندې کار کړی دی. په همدې حال کې داسې هیله من کسان هم شته چې له دې بحران او ګواښ څخه په ښه توګه ګټه اخلي او همدا ستونزې د ځان لپاره پر طلایي موکه بدلوي. هغه د دې پر ځای چې د سرو زرو یا بل هر توکي د بیې له ناڅاپي ټیټېدو څخه ناراحته او نا هیلی شي، له دې توکو څخه په زیاته کچه یې د ټیټې بیې په بدل کې اخلي او وروسته یې د بیو په لوړېدو سره د پام وړ ګټې په لاسته راوړلو پلوري.

---

## د کانونو او پټرولیم وزارت: اسیایي پراختیايي بانک له ټاپي پروژې سره ۱.۱۷ میلیارد ډالره مرسته کوي

د کانونو او پټرولیم وزارت وایي، اسیایي پراختیايي بانک له ټاپي پروژې سره ۱.۱۷ میلیارد ډالره مرسته کړې ده.

د دغه وزارت سرپرست خبریالانو ته ویلي چې د ټاپي پروژې د نلونو د غځولو چارې به تر راتلونکو څلورو میاشتو پورې پیل شي.

ټاپي هغه سیمه ییزه پروژه ده چې د ترکمنستان ګاز د افغانستان له لارې پاکستان او هندوستان ته لېږدوي، که څه پر دې پروژې ډېر وخت واوښت، خو په افغانستان کې یې لا هم عملي کارونه نه دي پیل شوي.

د افغانستان د کانونو او پټرولیم وزارت وایي، اسیایي پراختیايي بانک له دغې پروژې سره ۱.۱۷ میلیارده ډالره مرسته کړې چې افغانستان یې بېرته ورکړې ته مکلف نه، بلکې پاکستان او هندوستان به اسیایي پراختیايي بانک ته خپلې برخې ورکوي.

دا په داسې حال کې ده چې تېره ورځ د یادې پروژې د کار د پیلولو په موخه په کابل کې د کانونو او پټرولیم او د ځمکو او ښار جوړونې د وزارتونو او د یادې پروژې د پلي کوونکې شرکت ترمنځ یوه هوکړه لاسلیک شوه.

د دغې هوکړې پر مهال د کانونو او پټرولیم سرپرست وزیر هارون چخانسوري وویل، په افغانستان کې به د ټاپي پروژې عملي کارونه د ۲۰۲۱ ز کال په لومړیو کې پیل شي.

هغه زیاته کړې: «پلان دا دی چې، د دغې پروژې عملي کارونه به د را روان میلادي کال په لومړیو کې د افغانستان په هرات کې پیل شي، کولای شو له تورغونډۍ تر هراته پورې پایپ‌لاین وغځوو چې هلته له ګازو نه د استفادې مرکز جوړ شي او له دې وروسته به په ټاکلي مسیر پرمخ لاړ شي.»

د چخانسوري په خبره، د دغې هوکړې پر بنسټ به د پروژې په مخکې د پرتو شخصي او دولتي ځمکو د استملاک چارې هم بشپړې شي.

نوموړي دغه راز زیاته کړې، د ځمکو د استملاک په اړه هېڅ امنیتي، ټولنیزه او مالي ستونزه نه شته او که امنیتي ستونزې هم وي، هغه هم تر ډېره حده هواره شوې ده. په ورته وخت کې د ځمکو او ښار جوړونې وزارت وايي، د ټاپي پروژې د عملي کولو په لار کې ۶۰ سلنه دولتي او ۴۰ سلنه شخصي ځمکې پرتې دي.

د ښار جوړونې او ځمکو د وزارت د مسوولینو په خبره، د استملاک شویو ځمکو د پیسو ورکړه، د یادې پروژې د پلي کوونکې شرکت پرغاړه ده.

---

## د ملکیانو د خوندیتوب ډله: د جګړې ښکېلې خواوې دې د ملکي وګړو د ژوند خوندیتوب ته جدي پام وکړي

د ملکي وګړو د خوندیتوب ډله وایي، چې حکومت او طالبان دې د ملکي وګړو د ژوند خوندیتوب ته جدي پاملرنه وکړي.

دوی چې په مزارشریف ښار کې راټول شوي وو، همدا راز یې ټینګار کاوه چې ژر تر ژره دې بین الافغاني مذاکرات هم پیل شي.

د ملکي وګړو د خوندیتوب ډلې د رهبرۍ شورا غړي محمد اسماعیل بلخي پژواک ته ویلي چې طالبان او حکومتي ځواکونه د جګړو پر مهال د ملکي وګړو خوندیتوب ته پام نه کوي.

هغه زیاته کړې، د یوناما له خوا د ۲۰۲۰ ز کال د لومړیو شپږو میاشتو راپور له مخې، بلخ ولایت د ملکي تلفاتو له اړخه د نوملړ په لومړي سر کې ځای لري.

د بلخي په خبره، د روانو جګړو له امله ملکي وګړو ته د ځاني زیان تر څنګ زیات مالي زیانونه هم رسېدلي دي. نوموړي ویلي: «په شمال زون کې د روانو جګړو له امله زرګونه کورنۍ بې‌ځایه شوې دي، تر ټولو خطرناک حالت دا دی چې شاوخوا ۸۰ سلنه افغانان د جګړې له امله په رواني ناروغیو اخته دي».

د ملکي وګړو د خوندیتوب ډلې دغه غړي له طالبانو او افغان حکومت څخه په غوښتې، چې د عملیاتو پر مهال دې د عامو خلکو د ژوند خوندیتوب ته جدي پاملرنه وکړي.

د یادې ډلې یوه بل غړي سید محمد یزدان پرست بیا په خپلو خبرو کې د بین الافغاني خبرو د ژر تر ژره پیل کېدو غوښتنه کړې ده.

هغه زیاته کړې چې طالبان نور د جګړې د دوام لپاره هېڅ ډول عذر نه لري او باید د وخت له ضایع کېدو وړاندې بین الافغاني خبرو ته حاضر شي.

نوموړي دغه راز ویلي، د هرې ورځې په تېرېدو سره په هېواد کې د جګړو له امله د ملکي وګړو ژوند له جدي خطر سره مخ کېږي.

د یزدان پرست په خبره، وسله وال طالبان، افغان ځواکونه او په هېواد کې شته نورې مخالفې ډلې د ملکي تلفاتو مسوولیت لري.

د ملکي وګړو د خوندیتوب ډله په داسې مهال کې د عامو افغانانو د مرګ ژوبلې زیاتېدو په تړاو اندېښنه ښیي، چې تېره اونۍ په بلخ ولایت کې د یوه موټربم برید له امله څه باندې ۵۰ عامو افغانانو ته مرګ ژوبله واوښته.

مسیر ورځپاڼه

مسوول مدیر: اسدالله وحیدي

مرستیال: شفیق امیرزی

ایډیټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي

خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري

ګرافیک او ډیزاین: ارمان

چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶

۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

WAYGAL
PRINTING CO
غوره کیفیت او چټک خدمات په وايګل چاپ کې تجربه کړئ!
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

سه شنبه د ۱۳۹۹ د وږي يوولسمه | د ۲۰۲۰ د سپتمبر لومړۍ | ۵۸۸یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۸ | ۳۱ | ۳٤ | ۲۹ | ۳۵ | ۲۹ |
| ۱۶ | ۱۷ | ۱۷ | ۱۷ | ۲۲ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۵۹ | لمر ختل ۰۵:۲۵ | ماسپښین ۱۱:۵۵ | مازیګر ۰۳:۳۳ | ماښام ۰۶:۲۳ | ماخوستن ۰۷:۵۰

## نړۍ




د ګڼو هېوادونو له نيوکو سره سره؛

# د اسراييل او اماراتو ډيپلوماتيکي اړيکې بېرته عادي او ترمنځ يې مستقيمې الوتنې پيل شوې

۳

## اروپايي ټولنه: که ترکيه له پاروونکو اقداماتو ډډه ونه کړي، سخت بنديزونه به پرې ولګوو



اروپايي ټولنې په مديترانه سمندر کې د ترکيې له لوري د نفت او ګازو د استخراج په موخه پر وروستيو کيندنو او دغه راز د دغه هېواد له خوا يونان ته د احتمالي جګړې پر ګواښ اندېښنه ښرګنده کړې ده.

د اروپايي ټولنې وياند ويلي چې د دغې ټولنې ټول غړي د ترکيې پر وروستيو تحرکاتو او ښرګندونو اندېښمن دي او له دغه هېواده غواړي چې د خبرو مېز ته حاضر شي. هغه زياته کړې چې که له ترکيې سره خبرې کومې پايلې ته ونه رسېږي، نو مجبور دي چې پر دغه هېواد سخت بنديزونه ولګوي. اروپايي ټولنه دا ښرګندونې وروسته له هغې کوي چې ورمه ورځ د ترکيې د بهرنيو چارو وزير مولود چاووش اوغلو له يونان سره د احتمالي جګړې خبرداری ورکړی و.

د اناتولي اژانس د راپور له مخې، اوغلو په انقره کې يوې خبري ناستې ته ويلي چې يونان نه شي کولی په اژه سمندر کې ۱۲ مايله خپله پښه دېخوا ته واړوي او په خبره يې، د ياد هېواد دا اقدام په نظامي جګړه تمامېدای شي. په ورته وخت کې د ترکيې د ولسمشر مرستيال فواد اوکتای هم پر خپل ټويټر ليکلي، اروپايي ټولنه په مديترانه سمندر کې په خپلو غير قانوني اقداماتو سره ترکيه پاروي او په خبره يې، دا چاره به د يونان لپاره ښې پايلې ونه لري.

## تازه شمېرې: په نړۍ کې پر کرونا ويروس د اخته کسانو شمېر له ۲۵ ميليونو واوښت

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ويروس د اخته کسانو شمېر له نږدې ۲۵ نيم ميليونو ته ورسېد. دغه راز د ياد ويروس له کبله تر دې دمه ۸۵۱ زره او ۳۵۰ تنه مړه شوي او نږدې ۱۸ ميليونه تنه بېرته رغېدلي دي. د دغو شمېرو پر اساس د امريکا متحده ايالتونه د دغه ويروس د ډېرو قربانيانو او مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. په امريکا کې د کرونا ويروس د مثبتو پېښو شمېر له شپږو ميليونو واوښت او دغه راز ياد ويروس تر دې دمه ۱۸۷ زره ۲۳۳ امريکايان مړه کړي دي.

له امريکا وروسته برازيل د درې ميليونه او ۸۶۲ زره او ۳۱۱ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ دويم، هند د درې ميليونه او ۶۴۱ زره او ۴۸ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دريېيم، روسيه د ۹۹۵ زره او ۳۱۹ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ څلورم او پېرو د ۶۴۷ زره او ۱۶۶ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ويروس له کبله ډېر ځپل شوی دی. د راپورونو له مخې، په دې وروستيو کې د امريکا په څلورو ايالتونو ايوا، شمالي داکوتا، جنوبي داکوتا او مېنېسوتا کې د کروناويروس ورځنۍ پېښې ورځ تر بلې د ډېرېدو په حال کې دي.

## عظيمی: از اثر احتمال جاری شدن سيل در روزهای آينده ۵۰۰ هزار تن با خطر مواجه هستند



به دنبال بارندگی شديد و جاری شدن سيل مرگبار در ۱۴ ولايت افغانستان در هفته گذشته، مقام‌ها در مورد احتمال بارندگی و جاری شدن سيل در ۸ ولايت در روزهای آينده هشدار داده‌اند.


احمدتميم اعظيمی، سخنگوی وزارت رسيدگی به حوادث طبيعی گفته است که اداره هواشناسی گزارش داده که در هفته جاری ممکن است بارندگی شديد و سيل در ولايات بدخشان، پروان، لغمان، کنر، نورستان و خوست رخ دهد.

او گفته است: «در هفته‌ای که قرار داريم، احتمال بارندگی و سيلاب‌ها در برخی ولايات پيش‌بينی شده است آن ولايات شامل بدخشان، بغلان، پنجشير، ولسوالی غوربند ولايت پروان، لغمان، کنر، نورستان و خوست ولاياتی هستند که احتمال وقوع سيلاب‌ها در هفته جاری وجود دارد.» به گفته آقای عظيمی، ۵۰۰ هزار تن در ولاياتی که احتمال وقوع سيلاب در آن‌ها پيش‌بينی شده، با خطر مواجه هستند. آقای عظيمی می‌گويد کميته‌های ولايتی نشست‌های برگزار کردند و تحکيم‌کاری محلات آسيب‌پذير ادامه دارد و انتقال مردم از محلاتی که احتمال جاری شدن سيلاب در آنجا است آغاز شده است. به گفته او در اين ولايات پول نقد نيز فرستاده شده و کمک‌های اوليه در انبارهای ولسوالی‌ها انتقال داده شده است.

هفته گذشته در اثر جاری شدن سيل در ولايات کابل، پروان، پنجشير، خوست، باميان، کنر، نورستان، کاپيسا، ميدان‌وردک، لوگر، پکتيا، پکتيکا، لغمان و ننگرهار شماری زيادی افراد کشته و زخمی شدند. به گفته مقام‌های وزارت دولت در امور رسيدگی به حوادث در اثر جاری شدن سيلاب‌های اخير ۱۸۹ تن جان باخته ۱۶۹ تن زخمی، ۵۵ خانه تخريب و ۲،۹۹۶ خانه ديگر آسيب ديده است.


## ژوند

## څه ډول په کور کې هم پيسې وګټو؟



کېدای شي دنده مو ښه او په زړه پورې وي، مانا دا چې له هره اړخه پر شرايطو برابره وي، خو اوس چې نوي ټکنالوژۍ هر څه ته لاسرسی اسانه کړی دی، کېدای شي له رسمي وخت پرته په کور کې هم ځينې کارونه تر سره کړی او ډېرې پيسې تر لاسه کړی. د دغه کار لپاره اړتيا نشته چې اوسنۍ دنده مو پرېږدئ. ډېرې خلک د مازديګر له پنځو بجو وروسته چې په رسمي دنده کې خپل کمپيوټر وتړي، په ځينو داسې شيانو ځان بوختوي چې ګټور نه وي، خو برياليي کسان له رسمي کار وروسته په کور کې هم د ځان لپاره داسې يوه بوختيا پيدا کوي، چې هم يې ګټه وي او هم يې ورتياوې لوړوي. هغه کسان چې له کار سره عادت شوي وي، په کور کې پرې وخت سخت تېرېږي، نو دا يې تر ټولو ښه لاره ده. که غواړې چې تاسو يې هم پيل کړی، لومړی مو د کار ډول معلوم کړئ چې څه ډول کار تر سره کولی شی.

## هواوې خپل نوی لپټاپ معرفي کړ



هواوي کمپنۍ چې د ځيرکو موبايلونو په برخه کې نړيوال شهرت لري، په دې وروستيو کې د غوره او ښکلو لپټاپونو وړاندې کولو له امله هم ځانګړي مينه‌وال لري. دې کمپنۍ اوس خپل نوی لپټاپ هم معرفي کړی، چې اوسمهال به يوازې چينايي بازارونو کې خرڅلاو ته وړاندې شي. دغه لپټاپ مېټ بک ايکس ۲۰۲۰ (MateBook X ۲۰۲۰) نومول شوی چې په څلورو رنګونو کې به خرڅلاو ته وړاندې شي او د مېټ بک ايکس چې تېر کال په چين کې خرڅلاو ته وړاندې شوی و، پرمختللې بڼه ده. د دغه لپټاپ د بنسټيزې بڼې بيه ۷۹۹۹ چېنايي يوان (تقريباً ۹۰۰۰۰ افغانۍ) ټاکل شوې چې د اګسټ مياشتې په ۲۴مه په چينايي بازارونو کې خرڅلاو ته وړاندې شو. دغه لپټاپ به د ۸ ګېګابايټ او ۱۶ ګېګابايټ رم لرونکې دوه مختلفې بڼې او ۵۱۲ ګېګابايټ ايس ايس ډي کارت ولري. مېټ بک ايکس ۲۰۲۰ به وينډوز ۱۰ هوم اډېشن عامل سيستم سره وړاندې شي او د مخپاڼې پاسنۍ برخه کې ۱ مېګاپکسله ايچ ډي پاپ-اپ ډوله کامره لري. له دې سربېره، ۴۲ واټ بېټرۍ او د ګوتې نښې سېنسر هم لري.

د خپلو هيلو پوره کولو لپاره نغدو پيسو ته اړتيا لرئ !!!!!!!
د معاشاتو پور له په زړه پورو او آسانو شرايطو سره ترلاسه کړئ
• د پور آسانتيا په افغانيو او امريکايي ډالرو کې شتون لري
• لندمهاله پور د 12 مياشتو سره
• آسان سند جوړونه
• د دولتي، غير دولتي او خصوصي سکتور کارکوونکي کولی شي دغه پور ته لاسرسی ولري
دلازياتو معلوماتو لپاره ز مونږ نږدې څانګې يا هم په مرکزي دفتر کې د پورونو څانګې څخه ليدنه وکړئ او ياهم ز مونږ 24 ساعته شمېرې1515 سره اړيکه ټينګه کړئ
عزيزی بانک
Azizi Bank
www.azizibank.af
1515

